مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنګروال ۲۰۲۰/۰۶/۰۵

د احمدشاه دراني پګړۍ کې د غنمو په وړۍ شکونه

نن د پنجشنبې ورځ د ۱۳۹۹ کال د جوزا د میاشتې ۱۵مه ،چې د جون له څلورمې سره برابره وه، ښاپې د ورځې لس نیمې بجې به وې چې دفېسبوک پاڼه مې را واړوله ...ګڼشمېر دوستانو د احمد شاه بابا په پګړۍ کې د غنمو د وړې په تړاو ډول ډول انګېرنې کښلې وې !؟چې ګنې هغه وخت د غنمو وړۍ چېرته وو؟ دا هسې یوه بابېزه خبره ده کوم حقیقت نه لري ...ځنو خو په همدې پلمه تاریخپوهانو ، لیکوالو او ان احمد شاه ابدالي ته سپکې سپورې هم وېلې وې...

غواړم خپلې خبرې له دې ځایه پیل کړم ، چې احمد شاه ابدالي څه وخت او په کومه نېټه واک ته ورسېد؟

هغه وخت چې نادر افشار په دې پوه شو ، چې د ده پوځ د ده د دوه مخو سردارانو لکه محمدقلي ، صالح خان او د پارس د نورو درباریانو تر اغیز لاندې دی ... نو بیا یې د افغان ځواکونو مشران په دې لړ کې احمدخان را وغوښت او د جون په ۱۹ مه ورته وې وېل، ستاسو ملاتړ ته اړ یم ...

په دا سبا د جون په ۲۰مه په ۱۷۴۷ز کال د همغو ایراني سردارانو له خوا چې شمېر یې ۷۰ تنو شاوخوا ته رسېده تر ګواښ لاندې ونیول شو ، نادر ته ډېر نږدې سرداران په دغه لړکې ،صالح خان ،محمد قلي خان ،محمد خان ، مو سا بېګ، محمد خان قاجار او نورو چې له ده سره سیاسي مخالفت

درلود د نادرافشار له خېمې راتاو شول ، لومړی برید پرې صالح خان وکړ او ښې لاس یې ترې غوڅ کړ ، چې پاې کې یې وواژه .

په داسې حال کې چې پارسیان د نادر د کمپ په لوټولو بوخت شول...د نادرافشار مېرمن بې بې صاحبې د خپلې مینځې په لاس احمدخان ته احوال واستاوه ، چې زر ځان ورسوي...لاکهارت په خپل اثر کې لیکلي دي ، داحمدشاه ابدالي ځواکونو هغه کسان ونیول ، چې د نادر خزانه یې لوټ کړې وه ، نوځکه خو د کوه نور الماس احمدخان ته په لاس ورغی .(وګورئ لاکهارت نادر۲۶۲مخ)که څه هم یو شمېر څېړونکې انګېري چې کوه نور الماس په نادر دومره ګران وو ، چې تل به یې پر مټ تړلی وو!؟

ډېر څېړونکي دا نه مني، چې د نادر مېرمنې دې کوه نور الماس احمدخان ته ورکړی وي...بلکې داسې انګېری هغه قافله چې وروسته له نادره له هند نه افغانستان ته را ورسېده ،دغه مهال هغه وژل شوی وو او د واک چارې د احمدشاه دراني په لاس کې وې .

سایکس لیکلي دي ، چې د قافلې په قیمتي توکو کې د کوه نور نامتو الماس هم وو(وګورئ سایکس ۳۷۰ مخ)دا قافله کندهار ته څېرمه هغو غلو لوټلې وه ، چې مشران یې

کدوخان او نور محمدخان ول ...دغه کسان د

ابدالي احمدشاه له خوا ونیول شول او په دغو توکو کې ، چې ارزښت یې دوه کروړو ته رسېده ، د کوه نور الماس هم وو .

د نادرافشار له وژل کېدو وروسته ابدالي احمد خان او نور محمد خان غلجی کندهار ته راغلل، افغان مشرانو د شېرسرخ هدېرې ته څېرمه یوه ملي جرګه را بللې وه .

د جرګې په نهمه ورځ ، ویل کېږي یوه روحاني شخص صابرشاه ، چې د کندهار خلکو ورته ډېر درناوی درلود، د جرګې له مینځه را پاڅېد احمد شاه ابدالي ته یې مبارکې ورکړه او بیا یې د غنمو وړۍ په پګړۍ کې ور وټومبه .

دلته دی چې په فېسبوک کې یو شمېر کسانو توند غبرګون ښودلی دی ، چې ګنې ، د کندهار په موسم کې تر میزانه د غنمو کرونده ریبل شوې وی ، له دې پرته دوی په احمد شاه بابا دغه تور هم لګولی دی ، چې قبیلوي تعصب یې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له پاچاهئ وروسته هم پاله ، غلجي به چي له قلاته کندهار ښار ته ورتلل نو مالیه یا ټکس به یې تري اخستو...داسي ډېري خبري !؟
دلته یوازې زه غواړم دغنمو د وړي خبره وکړم او هغه دا چي احمد شاه ابدالي په ۱۷۴۷ کال دجولاي په ۲۰مه ، چي د رجب ۱۸ مه(۱۱۶۰) د سرطان۲۸مي سره برابره وه .
دلته گورو چي له اوس نه نږدي دري یا دوه نیمي پېړئ وړاندي، د هغه وخت هوا د اوس په څېر وه ؟ هېڅکله نه وه ...یاني هغه وخت د اوس په پرتله موسم سوړ او هوا یخه وه ، نو ښکاره ده چي هغه وخت د غنمو د کرلو او لو کولو وخت د اوس سره توپیر درلود...د مثال په ډول دا اوس تاسو له هغو دهقانانو او بزگرانو نه پوښتنه وکړئ ، چي له اوس نه ۷۰ یا ۸۰ کاله وړاندي غنم څه وخت او کومو مېاشتو کي کرل کیدل او له څو مېاشتو وروسته په کومه مېاشت کي (ځانگړي ډول کندهار یادوم) لو کېدل ؟ زما د معلوماتو له مخي د کندهار په هغو ځمکو کي چي اوبه یې درلودي یاني للمي نه وي ، غنم د میزان او یا د عقرب په مېاشت کي کرل کېدل او کله کله به خبره تر قوس مېاشتي پوري اوږده شوه ، نو بیا به د چنگاښ په پاي او د اسد له مېاشتي نیولي د وړی (سنبلي) ترمېاشت پوري لو کېدل...دا چي د سنبلي مېاشتي ته په پښتو کي د «وړي» مېاشت ویل کیږي یو لامل یې دادی...
دلته یوه بله خبره هم د پام وړ ده ،هغه داچي د غنمو تخم هم فرق درلود . د هغه وخت د یو شمېر غنمو نومونه دا وو ، سپېچه ، غټ غنم ، سرخچه ، د سرو شوغو غنم او داسي نور سیمه ېیز نومونه یادولی شو. په یادو غنمو کي ځني له ۹مېاشتو نه د مخه نه پخیدل...د کندهار ځنو بزگرانو به بیره کوله چي خپل لوونه د اسد مېاشتي له ۲۸ مي نه د مخه پایته ورسوي ، چي د خپلواکي جشن ته اوزگار شي ..
نو په دي بنسټ دا ډول تور ، چي گني زموږ تاریخپوهان په دي نه پوهېدل چي په هغه موسم کي د غنمو وړي چېرته وو؟ دغه ډول تورونه چي په تاریخپوهانو لگول کیږي ، لکه د بېنوا صیب یادونه چي شوېده ، ماته د تامل وړ دی !؟ ځکه چي هر لیکوال ، په ځانگړي ډول تاریخپوهان ، چي کله کوم تاریخي اثرلیکي لږ تر لږه دوه او یا دري سوه لاسوندونه خو ورته گوري...
په دغي فېسبوکي لیکنه کي د صابرشاه یادونه هم بابېزه ښودل شوي ده...چي دا هم د صابرشاه کابلي د تاریخي قربانیېو سپکاوی دی ، د بېلگي په توگه،
هغه وخت چي شهنواز خان ته د ډېلي د دربار فرمان غوره ښکاره شو او داحمد شاه بابا له فرمان یې سرغړونه وکړه ، صابرشاه کابلی دغه مهال په لاهور کي وو او د گڼو مریدانو په مینځ کي به یې ویل ، هیڅوک د احمد شاه دراني مخه نشي نیولی...د ده دغه بې ډاره خبري تر شهنواز پوري ورسېدي...هغه هم ادینه بیگ ته سپارښتنه وکړه ، چي صابرشاه ملنگ او محمد یارخان تر کلکي څارني لا ندي ونیسي...
یو وخت شهنواز خان له صابرشاه پوښتنه وکړه،
احمدشاه ورور څه حال لري؟ پیر ورته په ځواب کي ووېل، احمد شاه درانی د افغانستان او خراسان پاچا دی او نیت لري ،چي هندوستان هم ونیسي، تاسو یو سوبه دار په کوم جرات داخبري کوئ؟
هغه د دغو خبرو ځغم نه درلود ، نو بیا یی خواجه عصمت اله ته وسپاره او هغه هم ویلي شوي سرب دېپر په ستوني کي ور تویی کړل او هغه یې وواژه (د ډېرو معلوماتو له پاره وگوری دغلام حسن لیکنه لکنهو۸۶۲)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ